پوهندوی آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۷/۲۷

# له دیداره، تر مزاره

## (د علامه رشاد دولسم تلین په یاد څیرنغونده)

### دویمه او وروستی برخه

د شپیتمې لسیزې په پیل کې ما ته په رسمي او افتخاري ډول د رشاد صاحب د اسیستانتۍ ویاړ را په برخه شو. د دې دورې د یوې ورې خاطرې یادونه ما په هغې مقالې کې کړې ده، چې د استاد معصوم هوتک د علمي شخصیت او فرهنګي کارونو د درناوي په پار، ما لیکلې وه. دې مقالې ته ما «د ذهن له تاخانو څخه، څو شیبې له استاد معصوم هوتک سره» سر لیک تاکلی و. هغه وړه خاطره داسې وه:

«ما د لومړي ځل له پاره معصوم هوتک په یوه معصوم او مقدس ځای کې ولید، په پوهنتون کې، په ټولګي کې، نه د ښوونکي په توګه، بلکې د زدکوونکي په ډول. خبره زما د ژوند هغه وخت ته ور ګرځي چې په کابل پوهنتون، ادبیاتو پوهنځي کې د۱۳۶۰ ل کال په ساړه ژمي کې زه د اسیستانت په توګه ومنل شوم. له هغه وخته څه موده وروسته د ځوانو استادانو په ډیر او پرله پسې ټینګار سره علامه رشاد دا ومنله چې بیا د تدریس له پاره ادبیاتو پوهنځي ته راشي. په هغې موده کې چې ده تدریس کاوه، ډیری ځوان استادان به له استاد نه دعلمي لا زدکړو په خاطر، په ډلیزه توګه ټولګي ته ورسره تلل او دا ویاړما ته هم را په برخه شوی و.

وخت د بریښنا په چټکۍ تیریده. یوه ورځ مهربان علامه، وروسته له درس نه د چای غوښتنه رانه وکړه، د چای څکلو د پنډار په ترځ کې یې را یاده کړه چې په دغو ځانګړنو یو څوک د زدکړو د دوام له پاره راځي او...

او ښه مې په یاد دي چې یوه ورځ په ټولګي کې ځنګه یو با تجربه، با مطالعه، د لویې او پراخې حوصلې خاوند استاد، د یوعاجز شاګرد په رول کې د عادي شاګردانو په لیکه کې ناست و، هر څه ته یې غوږ نیولی و، خو هیڅ یې هم نه ویل. ما معصوم هوتک سره هغه وخت ولیدل او وپیژندل چې زما دلا زدکړو د منډو کلونه وو، نوی اسیستانت شوی وم، یوه پینه په ټولګي کې، بل قدم په کتابتون کې؛ یوه منده تر رشاد پورې، بله تر روهي پورې او بله پینه مې تر راډیو افغانستان پورې، بیا د مجلو او ورځپاڼو تر چلونکو پورې. زما او هوتک لیده کاته او خبرې ډیر ځلې په همدې زماني واټن کې په ټولګي کې تر سره شوي دي.»

وروسته له هغه چې علامه بابا د افغانستان د علومو په اکاډیمی کې رسمي علمي کار پیل کړ، زه به ډیر ځلې د ده لیدلو ته ورتلم او خپلې علمي ستونزې او پوښتنې به مې ور سره مطرح کولې. له علامه بابا سره زما د علمي اړیکو بله مهمه برخه هغه زماني واټن دی چې ده به ډیر ځلې په کابل کې د ده استوګنې ځای، خیرخانې مېنې ورتلم او خپلې علمي ستونزې به مې لست وار په مخ کې ور ته کینودلې او ده به په لویه حوصله او پراخ ټټر سره د خپل ذهن او تجربو خزانه زما په مخ کې وغوړوله او هیڅ به یې نه رانه سپمول.

وروستی مرسته او ورستی دیدن یې داسې و چې هیڅکله به مې هم هیر نه شي او ما هغه جریان په خپله سفر نامه «لارورکي لارویان» کې لیکلی ده. کیسه یې داسي وه:

«... له دغو تولوعقدو، ستونزو او د وطن د پرېښودو له درانه پیټي سره مې مجبوراً باید د پاکستان په لوري مخه کړې وای. زما او زما د میرمنې او بچو پاسپورتونه جوړ وو، ستونزه د ورېنداري او د وریرونو د پاسپورت وه. د هغوی د پاسپورت کارونه مې پیل کړل. ټول خلک په ټینګه کې وو، هره ورځ به د پاسپورت ریاست ته تلم. د پاسپورت د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په څیر و لولئ

ریاست په انګرکي خلک نه ځایدل، ما په ډېر زحمت د وریندارۍ د پاسپورت کارونه خلاص کړل، د کوم مدیر امضا پاتې وه، چې وروسته د هغه له امضا نه باید د پاسپورت قیمت په بانک کې تحویل شوی وای.

مدیر د نویو خلکو له ډلې نه هم نه و، پخوانی مامور ښکاریده، راته وې ویل:

ښځه دې څه کیږي؟

ما لکه کلک راستګوی و ویل:

وریندارمې ده.

له دې سره یې سم را ته و ویل:

چې اوس اسلامي قانون دی، ښځه او د هغې محرم دې راشي.

ما مدیر صاحب وپوښته:

محرم تاسو چا ته وایئ؟

هغه په ډېره نرمه لهجه چې پښیماني یې ملتیا کوله، را ته و ویل:

«باید یا یې میره موجود وي یا یې ورور!»

ما د ړیرو په ناتار او د ګولیو په باران کې خپل ورور او د وریندارې ورور له کومه کړي وای. د وریندارې ورور په میدان ښار کې او زما ورور په ماسکو کې و، د دوی د راتګ امکانات نه وو.

د مدیر له دفتر نه د باندې په انګړ کې د خدای په هیله هک پک ودریدم، له ځان سره مې چُرت واهه چې اوس یې څنګه کوې. که ګورم چې یو پخوانی یار را نږدې شو. ده هم د نویو تپل شویو قوانینو په سیوري کې د ږیرې تربارلاندې ژوند کاوه. په اول سر کې ما و نه پیژانده، له لنډې سترې مه شي نه وروسته مې وپیژانده. هغه و پوښتلم:

«ولې داسې اوتراو پریشانه یې؟»

ما ورته داستان بیان کړ.هغه و ویل:

«دا خو څه مشکل کار نه دی. پوهاند صاحب رشاد خو دې استاد دی، هغه ته ورشه، د پاسپورت رئیس جنرال محبوبي هغه ته داسې احترام لري لکه مرید یې چې پیرته لري.»

بس، له هغه ځای نه مې په بایسکل باندې پښه واړوله او مخامخ رشاد صاحب ته ورغلم. د ټوپکي ناورین نه مخکې به زه هره اونۍ یو وار د رشاد صاحب زیارت ته ورتلم. د هغه مبارک د صحت د پوښتنې تر څنګه به مې د خپلو درسونو، مطالعاتو او تحقیقي کارونو په لړ کې راولاړې شوې ستونزې هم ور سره شریکولې او ښایسته ډېر ځنډ به مو مرکې سره کولې، ده مبارک به ماخذونه را ته په نښه کول، لارښوونه به یې راته کوله او زما پوښتنو ته به یې په ډېرې مهربانۍ ځوابونه راکول او د ځیرنې نوې لارې او ضروري مسایل به یې را ته په نښه کول.

له رسیدو سره سم مې ولیدل چې علامه د کتابتون منځ کې په مطالعه بوخت دی. زه چې څنګه کیناستم، دی مبارک د مطالعې له کوټې نه میلمستون ته راغی. له روغبړ وروسته مو لکه د تل په څیر یو څه مرکه سره وکړه. ده فکر کاوه چې زه به بیا د پوښتنو کوم لیست را وباسم؛ خو ما اصلي موضوع ور یاده کړه. دی مبارک ناڅاپه پاڅیده او بیرته خپل کتابتون ته ولاړ، د خپل کار د میز له روک نه یې خپل یو ویزت کارت را واخست او داسې یې پرې ولیکل:

«محبوبي صاحب! آصف بهاند اول زما شاګرد او بیا همالته ادبیاتو پوهنځي کې استاد شو، څه کار یې تاسو سره بند دی، د ده د ستونزو په برخه کې مرسته وکړئ.»

محبوبي ته مې په ډېر جنجال لیک ور ورساوه. محبوبي چې د رشاد صاحب کارت او نوم ولید، ډېر احترام یې وکړ؛ خو د شک او تردید په سترګه یې را ته کتل. زما سر او وضع ډېره خرابه وه. کالي خیرن، ږیره ببره او هیڅ ځای مې د پوهنتون استاد ته نه پاتې کیده؛ په همدې حال کې د پاسپورت رئیس ښاغلي محبوبي پوښتنه را نه وکړه:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

«په خپله استاد چیرې دی؟» ما ورته و ویل: «زه په خپله یم، آصف بهاند یم.»

بیا یې د کار پوښتنه وکړه. ما د پاسپورت اوراق په مخکې ورته کېښودل او داستان مې ورته تیر کړ. ده پرته له ځنډه نوم وړی مدیر را وغوښت او هماغلته یې پاڼي ور باندې امضا کړې. په هماغې شیبه مې د وریندارې د پاسپورت پاڼې واخستلې او د کورنیو چارو وزارت ته مخامخ، د افغانستان بانک ښارې څانګې ته ورغلم، چې د پاسپورت قیمت وسپارم ...»

(لار ورکي لارویان، ۴۷ ــ ۴۸ مخونه )

له علامه بابا سره زما تر ټولو ښې خاطرې په ټولګې یا هم په کومه علمي غونډه کې د ده لکچرونو او خبرو ته غوږ نیول او تر ټولوخواشینونکې خاطره هغه وه چې رشاد صاحب د ډاکتر داود جمال په لاس ماسکو ته د خپل صحت احوال را ولیږه او ور سره یې له ما نه دا هیله کړې وه چې له کابل نه له وتلو وروسته په نورو ځایونو کې پر ما څه تیر شوي د هغه احوال ور ته ولیکم، خو ما دا کار و نه شو کړای، په نن سبا کې را نه پاتې شو او دا نه لیکل اوس هم ما زوروي. سره له دې چې زما سفر نامه (لارورکي لارویان) ده ته یو مفصل لیک دی، خو څه وکړم چې دی اوس ډیره نا وخته ده او د استاد رشاد په پته زما دا لیک داسې وخت ولیکل شو چې ده کډه کړې وه.

زه په مسؤلیت او ټینګار سره ویلای شم چې:

**ـ رشاد د علم او عمل سړی و،**

**ـ د کار سړی و،**

**ـ د نوي نسل روزلو ته یو متعهد شخص و،**

**ـ ما له ده سره د خپل شناخت په موده کې چې کومه نتیجه تر لاسه کړې ده، په لنډ ډول په یوه جمله کې یې ویلای شم چې: رشاد په خپله یو مآخذ و،**

**ـ دی یو ریښتینی ښونکی او لارښود و.**

ما په ټول ژوند کې د رشاد قهر و نه لید، پرته له یو ځل نه. هغه هم داسې چې:

د شپیتمې لسیزې د پیل کلونو کې د ښوونې روزنې وزارت د نشراتي ارګان «عرفان» مجلې مسؤل مدیر ښاغلی پویا فاریابي و. دی په عین وخت کې د ادبیاتو پوهنځي د دري څانګې استاد هم و. د علمي همکاریو په لړ کې یې یوه ورځ په ټینګاره سره هیله وکړه چې له عرفان مجلې سره قلمي همکاري وکړم. ما هم ومنله او کله، کله به مې یوه نیمه مقاله ورته لیکله او ده به هم پرته له ځنډ نه خپروله.

داسې هم وشول چې یوه مقاله دوې که درې میاشتې خپره نه شوه. یوه ورځ چې د علومو اکاډیمۍ پر لور روان وم، نا څاپه د ښووني روزنې وزارت په اړخ کې عرفان مجله او د مقالې نه خپریدل را یاد شو، ور وختم د عرفان دفتر ته ورغلم، پویا صاحب مې ښه هرکلی وکړ د چا څکلو په وخت کې مې د مقالې د نه خپریدو ور یاده کړه، ده د میز روک نه یوه پاڼه را وایسته او مخ کې یې را ته کېښوده. دا د صدرارت له مقام نه راغلی مکتوب و چې په هغه کې ټولو نشراتي ارګانونو ته د بینوا صاحب د نامه او آثار د سانسور امر شوی و. څنګه چې زما په یاده مقاله کې څو ځلې په بینوا او آثارو یې حواله ورکړل شوې وه، ځکه دا مقاله له خپریدو را ګرځول شوې وه.

ما پویا ته و ویل: ګوره که نور څوک نه پوهیږې ته خو ښه پوهیږې چې زموږ معاصر ادبیات د څو تنو مشرانو پر کارو استادانو او قلموالو له نامه سره غوټه دي، چې یو یې بینوا دی، که د بینوا نوم او آثار سانسور کړای شي، نو وې ګڼه چې زموږ د خیرنو کاروان وړاندې تلای نه شي. هغه پوه کړم چې د ده له وسې وتلې خبره ده.

کله چې د رشاد صاحب لیدلو ته ورغلم او دا موضوع مې ور یاده کړه، و قهرید داسې چې له ټول وجود نه یې د قهر باران په اوریدو شو. موضوع بیا ده په خپله له لوړ پوړو چارواکو سره د مفاهمې له لارې حل کړې وه، خو د جریان په حال یې زه پوه نه کړم.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د نولس سوه یو نوي ام (۱۹۹۱) کال په پسرلي کې، د توپکي ناورین په سختو کړکیچونو او اړو دوړ کې چې یوازې توپک، مرمۍ او جهالت حکم چلاوه، په آه او افسوس له مهربانه استاد نه جلا شوم او دا دی د شپږ ویشت کلونو له تیرولو او د بې شمیره کړاونو له گاللو وروسته بیا ورته راغلم.

روزگار داسي راسره وکړل چې له دیدار نه یې تللی وم او پر مزار یې ودریدم،

په لمدو سترگو ور نه جلا شوی وم او اوس یې په لا لمدو سترگو دیدار ته نه، بلکې مزار ته ولاړ یم:



د کندهار د مشاهیرو په هدیره کې د علامه بابا مزار

**رشاد مړ نه دی، دی د خپلو آثارو او افکارو له لارې په هر کور او هر زړه کې حضور لري.**

**یاد دې یې تلپاتې**
**او روح دې ښاد وي**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ